PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

جهاد هنداره

مراة الجهاد

دکابل ښار نظامی مرکزونه دمجاهدینو تر برید لاندې

کابل دقوس ٥ مه :
په پېښور کی دقوماندانانو دشوری سیاسی دفتر دېغمان څخه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دقوس په ٥ مه نیټه دکابل ښار سره نږدې باغ داود ، دقرغی په ٨ فرقه اودارالامان په ګارنیزون باندی چی ددفاع وزارت مرکز دی ددرنو وسلو ګولۍ ووروله چی په نتیجه کی په دارالامان کی دمجاهدینو دمرمی په لګیدو سره دمهماتو یوی ډیپواور واخیست.
خبرځای وایی چی په نوموړی ډیپو کی دمهماتو دچاودیدنی اوازونه لمبی او لوګی دلری څخه ښکاریدل .
خبر ځای زیاتوی چی په دغه برید کی دړژیم ٦ تنه منصبداران او عسکر وژل شوی،١٦ تنه ټپیان،٢ عرادی ټانکونه او ٣ عرادی موټری هم په اور کی سوځیدلی دی .

دګردیز پر کلابندشوي ښار باندې دمجاهدینو ددرنو وسلو ډزې

پکتیا ، جهادهنداره خبریال :
دپکتیا ولایت دګردیز له جهادی مرکزونو څخه دجهاد هنداری خبریال خبر راکوی چی مجاهدینو دتیری جمعی په ورځ دګردیز بالاحصار په شمول دکلابند شوی ښار کی ددښمن پر امنیتی پوستواوپوځی مرکزونو ددرنو وسلو ډزی وکړی اودښمن ته یی دسراومال درانه تلفات ورواړول .
دیو بل خبرله مخی درباط له پوځی قرارګاه څخه ددښمن دقواو اووه تنه عسکرله یوه ټانک ، یو میل پیکا ، یو میل درندی ماشیندار اوڅلور میله کلاشینکوفونو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی .
رپوټ زیاتوی چی تیره ورځ دګردیز په ښار کی ددښمن دګلم جم دملیشه او نورو عسکری قواوتر منځ سخته نښته وشوه چی ټوله ورځ یی تر ډیر لری واټن ډزی غږاوریدل کیده دمرګ اوژوبلی دقیقه اندازه تراوسه نه ده معلومه شوی.

دوهم کال-۱۲مه (پرله پسی ٦٤مه)گڼه،چهارشنبه،د ۱۳۷۰ کال دقوس ۱۳مه ، د۱٤۱۲ هـ ق کال دجمادي الاول ۲۸ مه ، د۱۹۹۱ م کال ددسمبر ٤مه نیټه

دمجاهد غږ راډیولوي مدیر سیدانورآغا دجهاد هنداري له خبریال سره په مرکه کي :

دخوست دسترې فتحې او د ګردیز په اوسنیو بریالیو عملیاتو کې دمجاهد غږ راډیو نشراتو اغیزمن رول درلود

په ۲ مخ کي

دیوه ١٣ کلن روسی احتجاجی ځان وژنه

مسکو ، رویتر آژانس :
«زه په شوروی اتحاد کی داوسیدو پر خلاف احتجاج کوم»
دغه جمله دهغه ١٣ کلن روسی ماشوم اخری لیکنه ده چی ترهغی وروسته یی ځان وواژه .
دغه پیښه دیوکراین دخارکو په ښار کی رامنځ ته شوی او دعدلی طب ډاکترانو دمړی تر معاینی وروسته ددی خبری تصدیق کړی چی نوموړی ١٣ کلن هلك په ذهنی او دماغی توګه بالکل نورمال وو ، خو ویل کیږی چی ده دروسیی داجتماعی اوسیاسی غیر مستحکمی وضعی څخه تر متأثره کیدو وروسته پدی اقدام لاس پوری کړی دی.

۹۵ نفر از افراد دشمن کشته و۱٥۰ نفر دیگر مجروح شدهٔ اند

جنگ بین مجاهدین وقوای رژیم درولسوالی دولت اباد همچنان ادامه دارد

درصفحه۸

دجنوب غرب حوزي دمجاهدو علماوو شرعي فتوی

۷ مخ

دامریکا دمتحده ایالاتو سینیټ ته وړاندی شوی یو رپوټ:

په کردستان کې په سل هاوو زره انسانان دمرګ په دروازه کی ولاړ دي

په راروان ژمی کی د ٥٠٠٠٠٠ انسانانو دمرګ ویره

په ۷ مخ کي

شواردنادزې طي ګفتګويي بایك آژانس جاپاني :

خطرکودتای دیگر در روسیه وجود دارد

درصفحه ۸

دهندی یرغلګرو په یوه نظامی کیمپ دکشمیری مجاهدینو برید

٦٥ هندي پوځیان مړه اوبې شمیره ټپیان شول

په ۸مخ کي

هند په ایران باندی «اټومی انرژی» خرڅوی

تهران ، دپاکستان اژانس :
دهند حکومت داټومی قوت رئیس ویلی دی چی هند به په ایران باندی اټومی انرژی خرڅوی چی دغه انرژی به په غیر نظامی ساحو کی په کار اچول کیږی .
نوموړی رئیس ویلی دی چی ددی معاهدی دمنسوخولو لپاره دامریکا له خوا نه پر هند کوم فشار ندی راوړل شوی .
دیادونی وړده چی څه موده مخکی داسی یو لړ خبرونه خپاره شوی وو چی امریکا پر هند باندی فشار راوړی ترڅو په ایران باندی داټومی انرژی دخرڅلاو څخه ډډه وکړی .

ددریمی نړی هیوادونه دخپلو شتمنیو زیاته برخه په وسلوخرڅوی

د٤٥ کلونو په موده کی د١٢٥ جګړی نښتی او ٤٠ میلونه انسانان دهغی په اثر له منځه تللی

په۹مخ کي

انکار مهاجرین برمایی از رفتن به کشور شان

هزاران تن از مسلمانان برمایی که در کمپ های مهاجرین در بنګله دیش به سرمی برند از رفتن دوباره به برما انکار نمودند یك نطاق مهاجرین مسلمان برمایی به منابع خبر رسانی گفته است که تاهنګامیکه نظامیان برمایی بران جا حاکم اند مسلمانان برمایی دوباره به انجابرنخواهند گشت .

دشوروی دبهرنیو چارو پخوانی وزیر بوریس پنکن وایی:

په نړی کې ترنیمایی زیات روسی ډیپلوماتان د کی ، جی ، بی جاسوسان وو

په۷ مخ کي

دکروشیا له دوو ډله ایزو قبرونو څخه ٤٥٠ مړی پیدا شول

نیویارك ، دپاکستان ورځپاڼه :
په جنك ځپلی کروشیا کی میشته داروپایی ټولنی یوه مشاور ویلی دی چی ده ته دکروشیا په یوه سیمه کی دوه ډله ایزقبرونه ورښودل شوی چی له دواړو څخه ٤٥٠ مړی راویستل شوی دی .
نوموړی ویلی دی چی دپوځ ډاکترانو زیاتره مړی پیژندلی ولی دهغی په هکله څه نور تفصیلات ندی ورکړل شوی.
ویل شوی دغه سیمه چی ذکر شوی قبرونه پکی دی دتیری اونی نه راپدیخواه دیوګوسلاویا دمرکزی حکومت دپوځ تر کنترول لاندی ده .
دیادونی وړده چی دغه دول ډله ایز قبرونه اوبی شمیره مړی دیوګوسلاویا او کروشیا تر منځ دخونړی،او تباه کوونکی جګړی محصول دی چی دیوی مودی نه راپدیخواه ددواړو تر منځ روانه وه .

سرمایه بانك دولتی شوروی خاتمه یافت

معاش های صدها هزار تن از مامورین دولتی ، عساکر وافسران نظامی معطل گردید

درصفحه۸

سرمقاله

سیاسي هلي ځلي اودواحد دریځ ستونزه

په دی وروستیو کی په ځانګړی توګه مسکو ته دمجاهدینو دځینو پلو دهیئت دسفر اوپه دی ترځ کی ددواړو خواوو دګړی اعلامیی دخپریدو په تعقیب دافغانستان دمسئلی دحل او اواری لپاره له یوی خوا په نړیواله سطحه دیپلوماتیکی هلی ځلی چټکی شوي اوله بلی خوا دجهادی ځواکونو تر منځ دیخوا په نسبت دتماسونو او تفاهمونو اوتمرك شرایط برابر شوی دی .
په دی لړ کی څو ورځی دمخه پاکستان ته دافغانستان دمسئلی لپاره دملګرو ملتونو خاص استاځی بینن،سیوان سفر وکړ اوپه پیښور کی دیو شمیر جهادی تنظیمونو له مشرانو او مسوولینو سره تر لیدنو،کتنو او خرګندونو وروسته دتیری دوشنبی په ورځ مسکو ته لاړ .
همدارنګه دقوس په شپږمه نیټه په پاکستان کی دروسیی سفیر نیکولای پاکونین په پیښور کی دافغانستان داسلامی حزب له مشر محترم الجنیر حکمتیار اودافغانستان داسلامی جمعیت له امیر محترم استاد ربانی اودیو شمیر نورو جهادی تنظیمونو له مشرانو سره جلا جلا لیدنی کتنی وکړی . له دی سره جوخت

په ۷مخ کي

چایناوایت نوي او خالص هیروئین انساني ژوندانه ته یو بل ګواښ

دریم مخ کي

دښځو دحقوقو په هکله دیوی استرالیوی ښځي نظریات :

په لویدیزو ټولنوکې د نارینه سره دبرابری دوکي له ښځي څخه «ماشین» جوړ کړی

په ۸ مخ کي

موږ دوسله وال جهاد له لارې پرخپل بری داده یو ، هیچاته داحق نه ورکوو چي پر موږ دخپلي خوښي حکومت تحمیل کړي.

الحاج حقاني

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

دخوست دسترۍ فتحې او د ګردیز په اوسنیو بریالیو عملیاتو کې دمجاهد غږ راډیو نشراتو اغیزمن رول درلود

پوښتنه : محترم آغا صاحب مهربانی وکړئ اودمجاهد غږ راډیو دجوړیدو په ضرورت رڼا واچوی؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم

تاسی ته معلومه ده چی راډیو ددښمن پروګرامونو اودسایسو دشنډولو لپاره یوه تبلیغاتی وسیله ده ، اوراډیو په خپل وخت کی نه یوازی ددښمن ټول دسایس شنډوی بلکه دهغه په څنګ کی دسنګر دمجاهدینو غږ خپلو مسلمانانو وروڼو ته رسوی اوهم په هغو پروګرامونو کی چی په راډیو کی نشریږی ، هغو خلکو ته چی ددښمن په لمن کی راګیر شوی دی ، دعفوی اعلانونه په خپل وخت وررسوی.

پوښتنه : تاسی دکومو کومو سیمو لپاره پروګرامونه او نشرات لری مطلب داچی دمهاجرینو دکمپونو یادهیواد په داخل کی ترکومه ځایه ستاسی راډیو اوریدونکی لری؟

ځواب : دراډیو پروګرامونه خاص دیوی سیمی لپاره ندی ، راډیو دافغانستان دټول دردیدلی ملت لپاره پروګرامونه لری ، چی په داخل اوحتیٰ په هغو مناطقو کی چی مونږ افغانان دمزدور رژیم تر تسلط لاندی دی ، هغوی یی هم اوری له هیوادنه بهر په کمپونو کی اوپه سنګرونو کی یی مجاهدین اوری ، دادیوی منطقی اوسیمی لپاره اختصاصی ندی ، یوازی یوه راډیویی دستګاه چی هغه خاص دګردیز لپاره خپرونی کوی ، چی دهغی آواز دګردیز نه بهر په لری منطقو کی څوك اوریدلی نشی ، اوبله دستګاه ده چی هغه دټول افغانستان اودافغانستان نه بهر لپاره خپرونی لری ، خلك یی اوری اودهغی دپروګرامونو څخه استفاده کوی .

> **راډیو دافغانستان دټول دردیدلي ملت لپاره پروګرامونه لري ، چي په داخل اوحتي په هغو مناطقو کي چي افغانان دمزدوررژیم تر تسلط لاندي دي ، هغوي یي هم اوري**

پوښتنه : که مهربانی وکړی اوپه لنډه توګه دخپلو عادی پروګرامونو اودجګړی دوخت دنشراتو په هکله څه معلومات راکړئ؟

ځواب :زموږ راډیو یی پروګرامونه پدی ډول دی دقرآن عظیم الشان په تلاوت اوتفسیر سره شروع کیږی ، په راپورتاژونو باندی ختمیږی چی پدی کی دینی مضامین دری اوپښتو خبرونه ، سیاسی تبصری ، دښمن دحقایقو په هنداره کی ، راغلو لیکونو ته دځوابونو ویل ، دیارانو مرکه،قرانی آیاتونه اواحادیث ، راډیویی داستان ، جهادی ترانی اوشعرونه ، جهاد دمطبوعاتو په هنداره کی .

داونی دمهمو پیښو خپرونه اوراپورتاژ .

ددی نه علاوه داچی اوس په ګردیز باندی دمجاهدینو زړور عملیات ادامه لری موږ دګردیز لپاره یو ساعت خاصه فوق العاده خپرونه لرو ، چی پدی خپرونه کی دجهادی قوماندانانو اعلامیی دمحترم حقانی صاحب ابلاغیی دعفوی نه داستفادی لپاره توصیی اوهغه خلك چی ددښمن په لومه کی راکښل شوی دی هغوی دمجاهدینو ازادو سیمو ته رابلل، اودښمن دپروګرامونو دشنډولو توصیی پکی دی.

پوښتنه : مهربانی وکړی اودخوست دفتحی په جریان کی دراډیو دنقش په هکله رڼا واچوی؟

ځواب : داچی راډیو یوه نشراتی دستګاه ده ، دوست او دښمن یی اوری دراډیو له لاری دعفوی اعلانونه خپریدل اودښمن له هغی نه استفاده کوله داچی دنومیالی مجاهد الحاج مولانا جلال الدین حقانی په خپله دراډیو له لاری هغوی ته دعفوی اعلان وکړ ، نو چی داخل کی ددښمن په سلطه کی ښکیل شوی خلك چی داسارت ژوندیی کاوه ، هغوی پدی مطمئن شول چی زموږ ژوند ته خطر نشته زموږ لپاره امن دی ، هغوی دوخت نه استفاده وکړه، اوددی موقع نه یی ګټه واخیسته ،

> **راډیو دسهار له ۶.۳۰ بجو څخه شروع تر ۸.۳۰ پوري دوام لري دشپي له خوا د۶ بجو او ۵ دقیقو څخه شروع کیږي اوپه اتو بجو او ۱۵ دقیقو باندي ختمیږي.**

اوځنی کسان یی راغلل اومجاهدینو ته تسلیم شول ، اومجاهدینو هم دوعدی سره سم هغوی ته دژوند هرډول اسانتیاوی ، برابری اوهمکاری یی ورسره وکړه .

پوښتنه :اوس دراډیو خپرونی څو ساعته دی ،اوپه آینده کی دهغی دزیاتیدو پروګرام لری اوکه نه ؟

ځواب : راډیو دسهار له ۶.۳۰ بجوڅخه شروع تر ۸.۳۰ پوری دوام لری دشپی له خوا د۶ بجواو ۱۵ دقیقو څخه شروع کیږی اوپه اتویجو او ۱۵ دقیقو باندی ختمیږی چی پدی پروګرامونو کی دسهاراودماښام له خوایو ساعت فوق العاده خپرونه دګردیز دجنګ په ارتباط شامله ده .

پوښتنه : په راتلونکی کی دپروګرامونو زیاتیدل هم په نظر کی لری ؟

ځواب : موږ کوښش کوو چی خپلو ګرانو هیوادوالو ته په پروګرام کی زیاتوالی راولو ، خو دوخت اوشرایطو دتقاضا سره سم کیدای شی ، موږ زیاتوالی راولو اوکوښش مو همدا دی چی داپروګرام نور هم زیات کړو.

پوښتنه : دجګړی په جریان کی خصوصاً دخوست اوګردیز دعملیاتو په ارتباط داڅومره موثر واقع شوی دی .

ځواب : دخوست اوګردیز په جنګ کی دراډیو خپرونی خصوصاً دجنګ په ارتباط اودهغو خلکو لپاره چی درژیم تر اسارت لاندی ژوند کوی ، ډیر موثر تمام شوی دی ، ځکه دښمن دسیسی جوړوی ، تخریب کوی ، اوهغوی ته وایی چی مجاهدین تاسی وژنی اوله منځه موړی‌نو دهغوی دتبلیغاتو دخنثیٰ کولو لپاره زموږ دراډیو خپرونی پرهغوی زیات اثر اچوی ځکه دمجاهدینو اومشرانو دعفوی اعلانونه چی هغوی اوری دهغوی پرځ اعتماد راتلای شی چی واقعاً مجاهدین زموږ لپاره هرډول مرستی ته آماده دی .

دور دوم مذاکرات صلح شرقمیانه وناباوریهای موجود

سمیع‌الله تانده

نتیجه گیری ایالت متحده امریکا از دور اول مذاکرات اعراب واسرائیل که طی پنجاه سال خصومت برای نخستین بار بتاریخ ۹ عقرب سال جاری در مادرید مرکز اسپانیه دایر گردید واضحاً این بود که کنفرانس مذکور نتوانست تمام ان امید واریهای راکه امریکایی ها از بر گزاری ان وبخصوص از دور اول ان داشتند براورده سازد ، ولی انها صرف باین حرف خود راقانع ساختند که گردهمایی مذکور موجب شد که گروههای دشمن برای بار اول باداشتن بدبینی های شدید در برابر هم قرار گرفته حرفهای همدیگر را در رابطه به ختم جنگ وایجاد فضای صلح در شرقمیانه مستقیماً بشنوند.

عدم موفقیت دور اول وسردی فضای آن سبب شد تا امریکا یی ها تلاش نمایند که هر چه زودتر بخاطر تدویر دور دوم این سلسله مذاکرات مساعی بخرچ دهند زیرا شوری که ارزو بود در مورد این کنفرانس از طرف کشور های سهم گیرنده ابراز گردد نیز بمشاهده نرسید که این امر نشان میداد که باگذشت زمان اصلاً از تدویر کنفرانس مادرید نیز ذکره بعمل نخواهد امد .

دور دوم مذاکرات عربها واسرائیل طبق بر نامهٔ که ایالات متحده بحیث دایر کننده این سلسله مذاکرات اعلام نموده باید بتاریخ چارم دسمبر یعنی ۱۳ قوس در امریکا تحت سرپرستی نمایندهٔ ایالات متحده میان عربها واسرائیل دایرگردد.اسرائیل بهنحوه ومحل بر گزاری دور دوم مذاکرات اعتراض نموده جهت به تعویق انداختن این مذاکرات پیشنهاد نموده است که دور دوم مذاکرات بتاریخ ۹ دسمبر بر گزار گردد ونیز گفته است که بهتر است کنفرانس مذکور بشکل دوجانبه میان اسرائیل وهریك از کشورهای عربی در شرقمیانه بر گزار گردد.

ایالات متحده تااکنون که سه روز به معیاد مذکور باقیست با پیشنهاد اسرائیل توافق نشان نداده بلکه این عمل اسرائیل راقاطعانه رد نموده است. اسرائیلی ها ظاهراً بهانه می اورند که گویا از جهت عدم اماده گی درست نمیتوانند در مذاکرات چارم دسمبر شرکت جویند .

شیوهٔ مذاکرات دور دوم چنان است که هیأتهای از کشورهای عربی هریك اردن ، سوریه ، لبنان وفلسطینی ها دریك طرف واسرائیل بطرف دیگر بشکل دوطرف معضله مذاکره خواهند کرد.

پافشاری بیشتر اسرائیل در مورد برگزاری دور دوم کنفرانس در میان هر یك از کشورهای عربی واسرائیل بخاطری است تابتواند صف واحد عربی را شکستانده بصورت منفرد از حریفان خود امتیازات بیشتری رابدست اورد علاوتاً انجام مذاکرات مستقیم دو جانبه میان هریك از کشورهای عربی واسرائیل از نگاه دیپلوماسی نیز بمثابه تاکیدی است بر موجودیت سیاسی اسرائیل .

عربها نیز تلاش می ورزند با افشا ساختن نیات شوم اسرائیل در شرقمیانه یکبار دیگر عدم صداقت اسرائیل رابه تمام جریانات اغازشده برهبری امریکا جهت اعادهٔ صلح در شرقمیانه ثابت سازند ، وهمچنان میخواهند از نزاکت ایکه در اثر به تعویق انداخته شدن اعتبارات امریکا به اسرائیل جهت اسکان یهودی هادر مناطق اشغالی میان ان دوکشور بمیان امده سود برند .

کشورهای عربی امروز بیش از هر وقت دیگر میدانند که درپشت تمام تلاشهای امریکا هدف کسب مشروعیت سیاسی به اسرائیل قرار دارد ولی انها نیزبنوبهٔ خود سعی می کنند بابهره گیری از موقعیت اقتصادی ونظامی که به امریکا دارند ودربدل بهای که به اسرائیل وامریکا می پردازند تمام ان اراضی ازدست رفته شان رابدست ارند که در جنگ ۱۹۶۷ به تصرف اسرائیل درآمده است .

جانب عربی گفته است که حاضر ند به اسرائیل صلح بدهند بشرط آنکه اسرائیل نیز مقابلتاً اراضی اشغال شده شانرا بدهد .

تاکنون شواهدی بمشاهده نرسیده که اسرائیل حاضر باشد اراضی غصب شده عربها رابه انها بدهد اما اطمینان دارد که به کمك ایالات متحده از مشروعیت سیاسی بر خوردارخواهد گشت .

قابل ذکر است که مساله فلسطین که هستهٔ مرکزی پروبلم شرقمیانه محسوب می شود نیز در سلسله مذاکرات آغاز یافته بشکل یکی از موضوعات ضمنی طرف بحث میباشد .

ددښمن دوحشیانه بمبارۍ یوه بیلګه

«چاینا وایت» نوی اوخالص هیروئین

په تیر پسي : انساني ژوندانه ته یو بل گواښ

ژباړه او لنډیز : احمد ضیاء «رحیمزي»

داسیا غیرقانونی کیمیا پوهانو له نن څخه لس کاله مخکی دچاینا وایت دجوړولو په لاروچاروکی مهارت ترلاسه کړ، دغه ډول هیروئین زیاتره داسیاپه جنوب ختیزه مثلث ډوله سیمه کی جوړیږی چی لدغه ځایه اوس دامریکا متحده ایالاتوته دتلونکو هیروینو په سلوکی ٥٦ برابریږی ، ولی په ۱۹۸٥ کال کی دغه برخه یوازی څوارلس په سلوکی وه دجنوب لویدیزی اسیا طلایی رنگه هلال ډوله سیمی چی دافیونو دکرهنی ډیره مهمه سیمه بلل کیږی ، دامریکا بازارونوته تر ۱۹۸٥ کال پوری ٥٠ په سلو کی هیروئین برابرول ، ولی اوس ددی سیمی څخه دهیروئینو لیږل اوبرابرول یوازی ۲۱ په سلو کی پاتی شوی دی ، ځکه چی له مکسیکو څخه هم امریکا ته مال ځی ، بل لوری ته دچاینا وایت هیروئینو دنشی اغیزه هم ډیره تیزه ده «چایناوایت » د۱۹۸۷ کال په

ترڅ کی تقریباً" ۸۰۰ پونډه بازار ته راغلل ، پداسی حال کی چی د۱۹۹۱ کال یوازی په لومړیو اوومیاشتو کی دغه مقدار ۲٦٠٠ پونډوته ورسید ، دتیرجون په میاشت کی دگمرگ مامورینو په اکلیند او کلفورنیا کی له تایلنډ څخه

> چاینا وایت د۱۹۸۷ کال په شروع کي تقریباً" ۸۰۰ پونډه بازار ته راغلل پداسي حال کي چي د۱۹۹۱ کال یوازي په لومړیو اوومیاشتو کي دغه مقدار ۲٦٠٠ پونډو ته ورسید

استول شویو او دپلاستیك په پاکټونو کی ځای پر ځای له یوه بندل څخه ۱۰۸۰ پونډه چاینا وایت ونیول چی په کوڅوکی په خرڅیدو سره دهغی لږترلږه قیمت یو نیم بلیون ډالره کیږی ، په هانگ کانگ کی د D.I.A پخوانی مشر" جیمزهیرس" وایی چی :« داعلی معیار چاینا وایت

هیروئین دپیسو دگټلو له ښو مصنوعاتو څخه دی » په مثلث ډوله سیمه کی دافیونو زیاتوالی دچاینا وایت په شکل کی بازار گرم کړی دی ، دهوا او اوبو دمساعدوالی له امله پدی سیمه کی دافیونو ډیره ښه کرونده کیږی

اوهیروئین افیونو څخه جوړیږی ، ولی دمخدره موادو دڅو تنو ماهرینو دریغ دادی چی دامریکا دیوه لوړ رتبه مامور په قول دبرما حکومت په سیمه کی په تور بازار کی دمخدره موادودخرڅونکو سره څه پټی اړیکی تینگی کړی ، او همدغه موضوع دچاینا وایت دغوښتنی

اواستونی دکاراوبار دارتقاء اولوړ والی سبب گرځیدلی .

دچاینا وایت لیږونی ډیر هیوادونه چی ځینی یی له دی مثلث ډوله سیمی څخه ، ډیر لری هم پراته دی په خپل دام کی را کښیل کړی .

دافریقایانو څخه زیاتره دنایجیریا اوسیدونکی پدی امید ډله ډله بنکاك یادجنوب ختیزی اسیا نورو هیوادونو ته راځی ترڅو دیوی شپی په ترڅ کی پوره امیران تری نه جوړشی ، دغه ډله خلك دمخدره موادو په لعنتوککړ هغه هر کاره گان دی ، چی په ځان باندی دظلم اوزیاتی په وسیله په لس هاوو کیلو گرامه په ربړی پاکټو کی ځای پر ځای هیروئین دخولی له لاری معدی ته داخلوی ، چی په همدی ډکه گیډه دیوعالم تکلیف سره ځانونه ، لویدیزو هیوادوته رسوی ، او

هلته بیا په ډیر مشکل سره دغه معدی ته استول شوی ربړی پاکټونه بیرته راوباسی چی دهغی په وینځلو سره هیروئین لاس ته راځی اوپدی توگه بیا هغه په تور بازار کی خرڅوی .

سربیره پردی دچین دُنیا" په ایالت کی چی دمیانمر سره تړلی پوله لری دمخدره موادو دقاچاقو نوی لاری پرانیستل شوی چی له دی ځایه دنړیوالو بازارونو سره اسانه هوایی اوبحری اړیکی تینگی دی .

دمخدره موادو دکنترول لویدیز کارکوونکی گومان لری چی دامریکا متحده ایالاتو ته درسیدونکی چاینا وایت هیروینو ۲۰ فیصده ، له همدی لاری څخه استول کیږی .

همدارنگه داسی شواهد اواسناد هم ترلاسه شوی

چی دجنوبی امریکا دکوکینو جوړونکی چی خپل کسب او کارته دتغیر ورکولو قصد لری دهیروینو په قاچاقو کی ملوث دی .

دکسب او کار دتغیر ورکولو دغه شایقین که په زیاته پیمانه متحرك شی نو دکوکینو دتقسیم لپاره خپل منظم مارکیټونه ، دهیروئینو دخرڅلاو لپاره هم استعمالولی شی .

دامریکا په متحده ایالاتو کی هم دچاینا وایت هیروینو پر تقسیم او توزیع باندی دمنظمو اسیایی گروپونو اجاره داری ټینگه ده ، چی زیاته برخه یی دچینی نسل خلك تشکیلوی ، دغه دهیروینو تقسیمونکی داسیا هغه خلك دی چی دځای بدلولو یا نقل مکانی دیوه لوی طوفان په څیر دامریکا متحده ایالاتو ته ننوتی ، او دهغوی پټی اړیکی دپردی ترشاه له هغه سازمان سره دی چی په کلفورینا کی "ټواچنگ ستریټ گروپ" او په هانك کانگ کی د" K - 14" په نامه یادیږی.

دامریکا متحده ایالاتو ته

په شپږم مخ کي

له آزاد خوست نه تر کلابند گردیزه

خلورمه برخه :

محمد زبیر شفیقي

دفخریو له کوتل نه لاندی هواره سیمه ده هغه سیمه چی دنامه په اوریدو یی دسړی پر ذهن ډول ډول ننداری انځورشی ، په خیال کی یی رنگا رنگ ننداری وځلیږی ، اوپه دماغ کی یی ډیری کیسی او داستانونه راژوندی شی .

کومه سیمه ده ؟ تول پوهیږی

سړی او تودی لیدلی ، دزرمت دنوم په اوریدو هرچاته یوڅه ضرور ورپه یاد شی او ماته هم همداسی ډیر څه راپه یادیږی ، هغه نیکنام می دذهن په پرده انځور شی چی له گردیزنه ددرنو ډزو تر لمبو لاندی دی دبی ام ۱۳

چی کله ډزی غلی شی نو ښی اوریدی شی دماشومانو ژړا ورسره مل ده چی دماتم اعلان کوی ، دانقلاب پر شهیدانو څوك ورته یات شوی دی ، دملت دیتیمانو پر قافله نوی یتیمان ورگډ شوی دی او ښایی تور سریی په ځوانه ځوانی کونډتون ته مجبوری شوی وی دچا دځیگر ټوټه دچا مهربان پلار او دچا مشفق ورور قربان شوی دی ... زگیروی او ژړا ددرنو ډزو په غړونو کی ورك شی ، مرگ دی چی حکم چلوی ، ویری په ماحول کاملاً قبضه لگولی ، عینی لکه تیارو چی لگولی ، پاس په اسمان کی ستوری سترگکونه وهی ته به وایی دنیکنام ننداری یو بل ته وربښیی یا زموږ دولس په مظلومانو له حسرته پټ پټونی کوی ، دزمانی بدنامو نامردانو پر نیکنام دغوسی اوربل کړی دی ، خو نیکنام همدغسی نیکنام پاتی دی ، دپردیو له ولکی نه ازاد ،

داسلام او هیواد دساتنی فعال مورچل .

دزرمت په غیږ کی دهغو شپو ورځو تصویر زما دذهن په هنداره راژوندی شی چی دشپی تر تورو پردو لاندی به له فخریو ترمقاوی یکپایی اویا درنگ پوری دپردیسو کتارونه جوړوو دهغه زرمت په غیږ کی دنگی دنگی کلاگانی وی

دزمان دکومو حادثو سره پنجی نرمولی ، کورونه تری پاتی وو ، اوله هرڅه سره ډك پاتی وو ، دزرمت لوی لوی کلی چی دبنیادم غړونه پکی چوپ وو ، دژوند ډیوی پکی مړی وی ، نغری په کی ساړه وو او انگړونو دماتم اوویر ننداری وراندی کولی دلوړو لوړو کلاگانو له حسرته

سپیره کښتونه هم ... یو زورور دروند غږ می دتصور له دنیا نه راوباسی دفخریو په گړنگونو کی دغه دروند غږ له یوی اوبلی خوا په وار وار راغبرگ شی ، موږ یو بل ته په سوالیه انداز گورو موټر چلوونکی له حادثو سره اشنازلی دی ، له سیمی او ماحول سره بلد په موسکا

> پاس په فضا کي دجیټ الوتکو کړسهار یو ځل بیا راپه یاد کړي چي موږلا دماتم په غولي پراته یو ، دورانیو لښکرلاشته دي ، ددین او هیواد غلیمان لا پر ځاي پاتي دي

او که څوك بیا هم نه وی خبراونه پوهیږی نو وایم لاندی هواره سیمه چی دمازدیگرنی ژیړی لمر وړانگی تتی وربانډی لویدلی اودخدای پامانی په حال کی دی ، خړ خړ گردونه وربانډی پراته دی چی تر ډیره حده دکلیو دلیدلو په مخ کی خنډ دی ، دزرمت سیمه ده .

دزرمت سیمه ده چی په تیرو دیارلسو کالو کی یی ډیری

توغندیو چاودنی دی چی په کلی کی یی دثانی محشر ننداره جوړه کړی ده ، هغه مابښام می سترگو ته نیغ دریدلی دی چی له قافلی نه مو په کلی کی لاره ورکه ده ، له یوی لو ښی کلانه لمبی پورته دی دبی ام ۱۳ مرمیوله غوسی نه ډکی کریږی او ورپسی زور وری چاودنی دی چی مځکه لړزوی ، دکلاله منځه شور او زوږ پورته دی

خواوسیدونکی یی نه ! لوړ لوړ برجونه وو خو نیم ویجاړ لویی لویی دروازی وی خو ددروازو او برجونو خاوندان نه ، خدای (ج) خبر دی چی هغوی به دهجرت دکومو ډاگونو میلمانه وو یا به یی

دروازی بیرته وی بس لکه په خپلو اوسیدونکو پسی چی ژاړی داسی به ایسدله لکه همدا اوس چی کلاگانی هم ژاړی شاړ اونیم وچ باغونه هم ژاړی او دتڼاکونو تر چینونو لاندی شو دیاره وچ

داد راکوی چی څه خطر نشته مجاهدین دی ، لاره جوړوی ، سورنگونه الوزوی ، ډیره راته عجیبه ښکاری ماخو تراوسه په دی ماحول کی هرڅه دتخریب او

په شپږم مخ کي

جهادي ادب

وینې مې چې تویې شوې دریاب شولې
زړې دېرې دانقلاب شولې
ډوب یې کړل دعصر فرعونان واړه
ښې شولې چې ډنډ شولې غرقاب شولې

ننګیالي اوخاطري یې

په څیره کې یې دحسرت نخښې دي، دخفګان نخښې دي اواندیښنو کرښې دي په چوپه خوله یې دفریادونو او کړیکو انګور دی، همدغه چوپه خوله، ځلاندې سترګې او نوراني څیره یې ډیررازونه افشا کوي، له ډیرو رازونواو دردونو نه یې پردې پورته کوي.

موږ ته ګوري دسیاست په تاریکیو کې ورکوته ا په سترګو کې موږوهوی اخطارراکوي، احتجاج کوي چې ولې اخر داولې ؟

داڅه کوی؟ زما له شوتې ښبې نه شرمیږې ؟

زما په وینو سرو لاسونو ته مو ددوستې لاس غځولی زما له دښمن سره مو معامله پیل کړی، زما او زما دشهیدو یارانو پر وینو معامله ا زما دځواني رژیدو اوښبې غوځیدو قیمت همدا شو ؟!! په خوله یې پوښتنې دي، په څیره کې یې همدغه سوالونه دي، په خپله ځبلې ځواني نه ژاړي خپله شوته ښبه یې نه ده ارمان، خوپه دې مأیوس دی چې دښمن لا روغ دی، په دې پریشانه دی چې موږ په نور څه پسې سرګردانه وینې، په زړه یې دغمونو بوج سیوا شی اوبیا ورو ورو دهغه تر سترګو داوښکو چینې راوخوټیږي، دجهاد دړومبیو کلونو له غازیانو-اوقربانیانو نه دی ځان راپیژني :

حبیب جان دصاحب خان زوی دځمکنیو ولسوالی دسپین کوټی اوسیدونکی دشهید عتیق الله دجبهی دمولوی قادر خان دګروپ مجاهد دی شپږ کاله وړاندی دجهاد په تودو مورچلونو کی دیوی مخامخ جګړی په جریان کی په داسی حال کې چې دراکټ یو ډزیی کړی و اوبل ته تیاری نیسی دپرسونل ضد ماین دچاودنې په اثر یوه ښبه له لاسه ورکوي.

غوربوته مې زګیروي دکوم اسیردي چې راځي
که چیغې له مورچل نه دتکبیردي چې راځي
راپورته شي او بیا په خپلو وینو غسل وکړي
خاموشي ګونګوسې مې دضمیر دي چې راځي

تکل

ماڼي ګاڼي، بلاګاڼي

سید شهریار

دبې دینه خونکارانو دډیر لوی ظلم اودخپلو خوروورو مجبوریتونو څخه یې په دې ماڼی کې بې له موره اوبې له کوره هستوګنې ته زړه ښه کاوه، اوچې نه یې ښه کاوه نوڅه به یې کول څه یې کولې شول؟ دې خونه دمور اونه دوړې خورددرد دواکیده اونه کیدې شو، دلسو اتوو کالو ملك به دچا دکوم درد دواشي اوبیا چې دردونه اوزخمونه هم ګزکې وي لا علاجه وي ددنیا ټول طبیبان یې دعلاج څخه عاجزوي.

(شریف خان) مجبور مکلف دی چې غاړه ورته کیدي یتیم دې پلار یې په ځوانه ځوانی کې دخونکارانو کافرانو له لاسه په شهادت رسیدلې یوه بې وزلې مورده پالنه هغه شان نه شي کولې څنګه یې چې زړه غواړي مجبوره ده چې دکوچنې زوی بیلتانه ته غاړه کیږدي، که نه نو څوك به دځانه خپله دزړه قطره دبل غیږې ته پالنې او روزنې لپاره وروغورځوي.

شریف خان په ډیر ترهیدلې اونازړه زړه دمور خور څخه بیل دتهاون رنګینواو زړه وړونکو ماڼیو ته راغې (یتیم خانې) ته !

دایې والاکه په ځان لوریږي، چې دخپل کور دزړې خیمې څخه دې رابیل شي، اودې ... څکه ده ته داهره ماڼی اوقصرماڼی ګاڼې، نه بلاګانې بریښې، ده ته رښتیا هم داښکلې ماڼی ګانې بلاګانې دي دې بې موره اوبې کوره پدې ماڼیو کې څه وکړي ده ته همغه شلیدلې خیمه دمینې اومحبت زانګو ده خو څه چاره ده چې دې دخپل تنکې زړه تنکیوخواهشاتو اوغوښتنو ته ۔تسلیم سرښکته کړي ویې منې او پوره یې کړي، څوك به دده دپالنې ضمانت ورکړي هیڅوك هم نه څکه خویې سترګې هم دپوښتنواو ګیلو مانو څخه ډکې دي دې خفه دې دهرچانه دګردې نړی نه دې ډیر ګیله من دې ده ته چې خپل کور خپله مورا و خور ور په زړه شي له خلکو اوله خپل نصیبه یې ګیلې ،غوسی اونفرتونه په خو

چنده شي له هرچا سره یې چې سترګې مخامخ شي همدا ګیلې اوهمدا پوښتنې ورڅخه کوي.

ولې مې دمور په خواکې نه پریږدي ؟ ولې مې له دې ماڼی ګانونه بندوی؟ اوولې مې مورته زما په باب زاری نه کوی؟ ایا زه دشهید زوی نه یم ؟ ولې نه ! زما پلار خو دټولو دګدوارمانونولپاره ځان قربان کړ، هغه خو ځان قربان کړ، مور مې کونډه شوه نو دا زه ترې ولې رابیل شوم ؟ اخر ولې داسی کوی، ولې دومره ستر ظلم کوی ولې مې دمور په څنګ کې نه پریږدی؟ زه خویې وینم ټول کوچنیان دخپلو پلرو میندو اوورونو سره اوسیږي، اوزه ... ټول دې په عصري مکتبونو کې سبقونه وایې اوله ماسره دې دیو سیپارې داخیستو توان هم نه وي، هرڅوك دې دخپلو خپلوانو سره وینې او زه دې دبل وطن له خلکو سره ! داکوم انصاف دې دې ته به څوك انصاف ووایې انصافدار خویې په خدای که انصاف وبولې زماوکوچنی خور خوبه زما پسی دډیره خفګانه زړه وچوي هغه به اوس څوك دسرك په غاړه دموټرو سیل ته راوباسي، او ... په سترګو کې یې همدا پوښتنې اوګیلې دي چې موجونه وهي، ځوابونه غواړي.

خوخوله یې بیا چوپه ده داسې لکه چاچې پرې مهر وهلې وي له خولې څخه یې غږ نه راوځي نه راوتې شي اونه دراوتلو حق لرې دلته هریو په خپلو عیشونواوغمونو کې لامبو وهي دلته یو دبل دغمه نه خبریږي، دلته څنې پخپلو خوښیو او څنې په خپلو دردونو کې ډوب دي، دلته هریو دردمند او فکر مند دي دلته دهربې وسه اوبې وزله پخپل سر ده.

موږ سره دصدر «استیډیم» نه تر ټاونه راغې موږ ټولو ناستو کسانو یتیم شریف وار په وار له نظره تیر کړ همغسې لکه دښار دکانداران چې دلارې لاروي تیروي په ټوله لاره زموږ خولې بندې

وی مهرونه پرې لګیدلې ؤ موږ ترې دمجبوریتونو په باب ونه پوښتل موږ ور سره په زغرده سترګې ونه جنګولې موږ مخکې له مخکې دهغه دمجبوریتونو څخه خبر ؤ زموږ خولې بندې وې داسې لکه دا موږ چې دده دمجبوریتونو زمه وار یو.

اویا به شاید موږ هم دغه دردمند احساس له بحث او مباحثې ویستلي ؤ چې که وپوښتل شي نو پخواني دردونه او غمونه لاڅه چې داوسنی دکور څخه دبیلتانه ناکردې به یې هم زړه په څو کرتي ور وچوي او رښتیا هم دهغه تنکې زړه کله ددومره سترو غمونو سره دنیزه بازۍ توان درلود هغه خوکوچنې ؤ

دهغه متې خو لا کوچنۍ وې داڅه یې چې کړي ؤ اویا یې کول خوپه خپلو ارادو او لوړو حوصلو. ځکه چې دویاړمن ډګردباتور شهید زوی دې همغه توده وینه یې په رګونو کې موجونه وهي که نه دی غمونو اودې دردونو ته خوغر هم نشي ټینګیدای پاتې خولا دغه کوچنی ! مادخپلو سترګو په یوه نظر دسرنه تر پښو تیر کړ ډیرمنظم ډیر با ادبه اوډیر پاك ؤ ما کله همداسې با ادبه کوچنی نه ؤ لیدلې پاکه خولی یې په سروه پاك پټوی په اوږو پروت ؤ مښودې پاکې جامې یې په تن وې دصدر نه تر ټاون پورې یې موږ سوڼ هم وانه ورید

په ۷ مخ کې

دنور ځلې

سیدشهریار

دویم خلیفه حضرت عمر فاروق (رض) یوه ورځ په مکه مکرمه کې ګرځیده ویې لیده چې خدمتګاران ولاړ دي او سرداران ډوډۍ خوري په ډیر قهر یې سردارانو ته وویل: څه وجه ده چې څوك ځانونه دخپلو خدمتګارانو څخه غوره او بهترګڼي.

له دې څخه پرته هم حضرت عمر (رض) دخلکو دمساواتو لحاظ ترډیره حده ساته چې ویل کیږي: دقحط په کال کې چې په (عام الرماده) سره یادیږي او غوړي پکې بیخي نه پیداکیدل نو عمر(رض) هم دنورو په څیر دغوړیو له خوراك څخه ځان پرهیز کړ تیل به یې خواړه تردې پورې چې دتیلو خوراك حضرت عمر«رض» ناروغ کړ او پوستکې یې تور واوښت دغه کارته بیاهم حضرت ترهغې پورې دوام ورکړ ترڅو چې په بازار کې غوړي ډیر شوه او هرچا اخیستې شول:

دمسلمانانو بیت المال دهمدغه مبارك عمر (رض) په زمانه کې زیات غنی شو او داځکه چې دکسرئ او قیصرلویې امپراطورۍ دمسلمانانو تراغیزې لاندې شوې خو بیاهم دغه مبارك خپل نفس ددنیا دخوندونو او نعمتونو څخه محروم کړې وو یواځې دانه چې مادي عیش او لذت یې په ځان حرام کړې ؤ بلکه معنوي او احساسي لذتونه یې هم په ځان درولي ؤ تردې پورې چې یوه ورځ دغه داسلام ستر خلیفه داوبو مشك په شا کړې ؤ خلکو ورته په حیرت او تعجب کتل زوې یې په مخه ورغې دانکار په ډول یې ورته وویل: داڅه کوې ابو؟ د وخت خلیفه ځواب ورکړ نفس ته مې عُجب غرور پیداشوې غواړم چې ذلیل او حقیریې کړم

همدغه خلیفه یو کال دحج دفریضې داداکولو په وخت کې له خپلو ملګرو سره (١٦) دیناره مصرف کړل دتاسُف په ډول یې وویل «بیت المال ته موډیر زیان ورساوه» رښتیا هم یو خلیفه چې دورځې دخپل مصرف لپاره دبیت المال څخه دوه درهمه أخلي هغه ته د (١٦) دینارو مصرفول له حده تیرې ښکاری. دحضرت عمر (رَض) دغه سختګیري یواځې په ځان وه په نورو نه بلکه خپلو ټولو کارکوونکوته یې کافی معاشونه ورکول مثلاً دکوفې والی (عماربن یاسر) ته به یې دمیاشتې شپږسوه درهمه تنخوا ورکوله او دورځې نیم پسه له څه اوړ وسره په همدې ترتیب به یې عبدالله ابن مسعود«رض»ته دمیاشتې سل درهمه او دورځې دپسه څلورمه برخه ورکوله داسلام ددوهم ستر خلیفه انصاف او مساوات راشۍ اوس هم دمسلمانانو دبادشاهانو صدراعظمانو او رهبرانو سره مقایسه کړۍ چې پخپله څه خوري څښی او څه کوي او دخپل ملت لپاره څه کوي ایا انصاف، جمهوریت، عدالت دادې او که هغه چې پخپله یې دتنګسې تریخ ژوند خوښاوه او خپلو مسلمانانوروڼوته یې دارام او راحت لارې چارې برابر ولې ایا په ځان یې دغه دراحت او ارام شپې ورځې نه پیرزوکیدې؟

دانسان اوشرایطو متقابلې اغېزې

مولانا عبدالمجید

دټولنیز ژوند په دوران کی دشرایطو تاثیر په انسانانو او دانسانانو تاثیر په شرایطو باندی

یوه داسی ثابته قضیه ده چی په فزیکی اوطبیعی چاپیریال کی ترینه انکار نشی کیدای دبشری ټولنو دژوندانه په مسیر کی شرایط اوحالات ډیرسترروللوبوی اوډیر پر ځان نامتکی انسانانه دعزم هوډ اوخپلی تګلاری څخه یوی اوبلی خواته کږوی.

په دی ډول چی یو وار یوه مشخصه ټولنه دڅه مشخصاتو په اساس جوړه شی ځنی کم همته اوپه ځان بی باوره انسانان خپل اصلی خصوصیات له لاسه ورکوی اودرغیدلی ټولنیز چوکاټ سره ځانونه همنواخت اوهم اهنګ کوی .

داډول اشخاص چی دوخت له حوادثو او جریاناتو څخه فوری رنګ اخلی موقع طلب (اپورچونیست) ورته ویلی شی . داسلام مبین دین دی ورکسانوته منافقانو نوم ایښی داهغه بی ضمیره ارتجاعی انسانان دی چی وایی یو څه کوی بل څه اوپه زړه کی یی نور څه مطرح وی په یو وخت ددوی په یو او محدود بدن کی دڅوډوله ضد او نقیضو روښونو بهیروی یعنی په یووخت ددوی په ځان کی دڅو مختلفو او متضادو قواو تر منځ دفعل او انفعال پروسه په تندی سره خوځنده وی.

اول : دشرایطو دلګام کولو لپاره یوه ډله هم فکره همدرده متعهد کسان رایو ځای کیږی اویوټاکلی حرکت په لار اچوی ټول ممکن وسایل مادی او معنوی امکانات ورته تکیه کوی ترڅو پیل شوی جریان درکود او ځنډ څخه وژغوری اودهدف په لور یی پوړندی کړی .

دسیاسی اقتدار دلاس ته زاوړلو په مقصد ډیرو ستونزو پرابلمونو مصیبتونو ... دزغملو سره سره علمی نظریی عملی مبارزه پیل کوی ، دغیر مترقبه مشکلاتو دګاللو څخه وروسته چی کله خپلی اصلی موخی ته ورسیږی نو دخپل توان سره سم یوه جامعه رغوی (البته په هغه شکل کوم چی ددوی په اذهانو او انظارو کی دیو مشترك ټاکل شوی هدف په ډول وجود لری) داوګړیز ټولګی دمال وخت ... دمصرف اولګښت څخه نیولی دسردقربانی پوری داټول مراحل پرله پسی طی کوی او دهدف په لور خپل حرکت ته مناسبه ادامه ورکوی ترڅو هغه ټاکل شوی سر منزل ته ورسیږی کوم چی دسیاسی قدرت څخه عبارت دی خوسیاسی قدرت پخپله وروستنی هدف نه دی بلکه دهغه توانایی مرکز حسابیدای شی چی وروستنی موخی ته درسیدلو دلاری څخه خنډونه ، ګنډونه ... لیری کوی اودوروستنی لور حرکت ته قوت وربخښی .

> انسانان اوشرایط دواړه یو پر بل باندي درنګ اوتاثیر غورځولو توانایي لري اما دانسانانو تاثیر په شرایطو باندي داولیت حق لري او دشرایطو تاثیر په انسانانو باندي نسبي او وروستي دي

کله چی سیاسی اقتدار نوموړی ټولګی ته حواله شواو ددوی هر اړخیزواك په ټولنه حکم فرماشو ، نو ټولنیز ماحول ددوی دمستقیم تاثیر لاندی کړای شی .

دعربی ادب دمقولی په بنا چی وایی وګړی دخپلو پاچاهانو په دین باندی وی .

دامهال واکوالی ډلی ته دخپلو وړاندنیو امیدونو اوارزوګانو تر څنګ نوری غیری متصوری غوښتنی ، خواهشات ، او خوشحالی هم ورپه برخه کیږی .

لومړی خودوی دخپلو رنګارنګ قربانیو په واسطه وګړی اوشرایط ځان خواته راډول او تابع کول اما دکوم وخت څخه راهیسی چی شرایط قوانین اودټولنی سرنوشت ددوی دټاکلو شوو مقرراتو تر اغیزی لاندی شول هغه سوبی چی ددی ترمخه یی دزړه په وینو تر لاسه کولی اوس ورته بی له کوم پرابلم اوسر درد څخه پخپله ترلاسه کیږی .

ځکه ځینی سست اوبی متانته اشخاص وای که زمانه (دوخت انسانان) درسره نه جوړیږی ، ته دزمان سره جوړشه یعنی ځان هغه نابرابرو خلکو ته تابع کړه .

خودادبی عزمه وګړو سستی او رکود ډیر بدعواقب هم لری ځکه ددا ډول غفلت نتیجه ذلت ، غلامی ، سرټیټی اودحق داثبات څخه خاموشی ده په حق مین ځوانان وایی؛ «نامرد وایی بدل کړی زمانی یم -مرد هغه دی چی بدله زمانه کړی» .

داسلام درښتینی دین دشمعی پتنګان او عاشقان داډول هوډ لری .

اووایی : سم په سیند کی به مخ کښته لامبی ډیر- .

نر هغه چی پکی ولامبی مخ پورته . دازمن دزمانی (اهل دوخت) موږ زیږولی- چی ټینګیږی دوختو ناړامه زور ته ...) دلته دی چی ځینی پر ځان بی اعتماده عناصر دویری او ځینو مادی امکاناتو په تمه دوخت هر ډول بدلون ډیر ژر قبلوی .

ځکه هغوی په ژوند کی په اساسی توګه کوم عالی تاکتیك او ستراتیژی په نظر کی نلری لذا په هر ډول چی وی خپل ځانونه دحاکمی طبقی دیوغ لاندی باسی او خپل ژوند ته په یو ذلیل ډول سره دوام ورکوی لکن دتعجب وړ کیدای شی داوی چی دانوع سریع التحول انسانان ځانونه ماهر ، با تدبیره ، دقیاس خاوندان او مقصود ته رسیدونکی بولی .

حال داچی دتاریخی اصالت له مخی داډول خلك هیڅ قسم کامیابی نلری ځکه ددوی هر څه دبل چادفکری اوعملی نګرانی لاندی سرته رسیږی نو داوړ کسان غیر مستقل دی پس ددوی بری او ماتی هم غیر مستقله ده یا داچی بری یی غیر مستقل دی او ماتې یې په زیاتو ځایونو کی ذهنا مستقله وی ...

دادټولنی د قشر په حیث انسانان دتل لپاره دټولنی دډلګیو دموازینی دروندلوری اوپله لاپسی درنوی ځانونه دمقتدری ډلی په اړخ کی دروی او هڅه کوی ترڅو دهغوی دمشقتونو او رېړونو دنتیجی میوه دهغوی سره وویشی او بی محنته راحت لاس ته راوړی ، او دعزت څخه خالی ژوند ته دوام ورکړی .

چی همتمندان په ځان باوری اودټینګ ایمان لرونکی انسانان دغه ډول بی ابرو اوبی همته او بی اهمیته ژوند څخه مرګ غوره کنی .

سلطان ټیپو دانګریزی استعمار په مقابل کی دازادی دجنګ په لړ کی دشهادت په وخت وویل :(یادرکهو : ګیدړ کی سوساله زنګی سی شیرکی ایك روزه زندګی بهترهی)

یادوساتی : دګیدړ دسل کلن ژوند څخه دزمری دیوی ورځی ژوند غوره دی

نوباابرو دحق څښتنان باید دخپل حق دلاس ته راوړلو لپاره دحقی مبارزی رښتینی لیار خپله کړی اودانسان دانسانی ابرو ، عزت وقار شرافت دبدبی ... څخه دفاع وکړی اوپه دغه وسیله باید خپل حق ترلاسه کړی دراکداو جامد جسم حیثیت باید هیڅکله هم خپل ځان ته غوره نکړی ،اوباید دخپل وس او متری سره سم هڅه وکړی .

که زمانه (اهل دزمانی) دچاسره موافقت نکوی باید دزمانی (دوخت دخلکو) سره وجنګیږی ترهغه وخته چی حق اسلامی دین حاکم او دباطل سټه ووزی یعنی په هیڅ ممکنه وجه او سبب نه ښایی انسان خپل انسانی وقار ، دبدبه ، اخلاق ،حیثیت وجدان ، ضمیر ،عزم ، همت ... ددنیا په یو څو پیسو ، چوکی ، امارت، مزوچړچو په نشو اوبی اهیمته لقبونو بی ځایه افتخارونو ، ریا کاری ، شهرت ... باندی له لاسه ورکړی ځکه دانسان دغه دانسانیت دکمال صفتونه چی یو ځل پایمال شول دا هغه جوهرونه دی چی دوباره دترمیم امکان پکی نه لیدل کیږی .

نو دمنل شوی او مسلم حق حاکم ګرځونی دلاری په مبارزه کی باید دستونزو او

دنور په لور

زه ولی مسلمان شوم؟

صلاح الدین بورد «امریکایی »

د(. ۱۹۲) کالدشاوخوا خبره ده ، زه دیوه ډاکتر په کلینك کی ناست وم دلته می له لندن نه خپریدونکی یوی رسالی «افریقن ټایمز رور تینت ریویو » یوه ګڼه ولیدله ، په هغی کی داسلام په باره کی یو مضمون و چی زما پام بی بی اختیاره ور واړاوه، په یوه شیبه کی زما دژوند لوری بدل شواو ما اسلام ومانه .

ددغه مضمون یوازی یوه فقره زما په زړه ننوتله او هغه «لااله الا الله » یعنی له الله پرته بل دعبادت وړموجود نشته ، حقیقت دادی چی همدغه کلمه دمسلمانانو هغه قیمتی شتمنی ده چی هر څومره ویاړ ورباندی وشی بیا هم کم دی .

ماچی اسلام ومانه نو صلاح الدین نوم می ځانته غوره کړ ، زما پوخ باور اویقین دی چی اسلام ریښتونی اونیغه لاره ده ، ځکه چی اصل اقتدار او واك لوی الله (ج) لره ګنی ،اوداتعلیم ورکوی چی له الله (ج) نه پرته نور څوك زموږ فریاد نشی اوریدای اونه ګناهونه بخښلی شی .

پردی سربیره دغه دین لدانسانی فطرت سره بشپړه هماهنګی او مطابقت هم لری ، ځکه زموږ ورځنی تجربه اومشاهده هم داراښیی چی کښت اوفصل وی که کارخانی ، کاروبار دفتر وی ، ښاروی اوکه کوم بل مقام، په هره یوه معامله کی په یوه وخت دوه مشران او واکمن نشی اوسیدای ، دی حقیقت هم زه ډیر تر اغیزی لاندی راوستم داداسلام پیغام و چی عربو ته یی نوی ژوند وباخښه ، هغوی له سپیرو او وچو ډاګونو نه پورته شول اوپه ټوله نړی واکمن شول ، انسانیت یی دجهالت اوتاریکی له کوخونه راویوست او دعلم او روښنایی په ډګر یی ودراوه .

داعرب وو چی په اندلس کی یی دوړور ولی اومحبت نغاری ووغولی او یو ویجاړ او شاړملك یی په سمسور ګلستان بدل کړ .

زه دجان دبلیو درپر ډیره مننه کوم چی INTELECTUAL DEVELOPMENT OF EUROPE نومی کتاب په لوستلو یی دمسلمانانو عظمت زما په زړه نورهم ښه نقش شو .

اسلام چی دعصری علومواوتهذیب په پرمختګ کی کوم ستر رول درلودلی دی «جان درپر » ډیره په امانتداری او انصاف دهغی تصویر ایستلی دی .

هغه اندلس ته دمسلمانانو دراتګ په وخت کی داروپا عمومی وضعیت داسی انځور کړی دی :

«داروپا دمقامی اوسیدونکو دوحشیانه عادتونو او رواجونو داسی حال ؤ لکه همدا اوس چی حیوانات کوم ژوند لری، دهغوی بدن له پاکی اونظافت سره نا اشنا و ، په اذهانو کی یی دجهالت تیار و اوږده سیوری غځیدلی وو هغوی په داسی کوډلو کی اوسیدل چی دځناورو غارو نه ډیر ورباندی ښه وو ، دهغوی ښه غذا ، لوبیا اودنباتاتو اوږنو ریښی وی ، زیاتره به یی دونو ریښی زیښلی دځناورو پوست به یی دجامو پر ځای استعمالاوه ، اوتر هغو پوری به یی نه لری کاوه چی ټوټه ټوټه به ولوید اوبدن به یی لوڅ پاتی شو .

مسلمانانو اروپا یان دشخصی ژوندانه له راحت او ارامی سره هم بلد کړل .

او هغوی ته یی دڅښلو ،او خوړلو ، جامواو مترقی ژوندانه لاری چاری هم ورونښودلی ، اوهمدا مسلمانان وو چی اروپا یان یی دجهالت نا امیدیو بداخلاقیو اوویری له تیارونه راوویستل او هغوی ته یی داسی علوم او فنون ورونښودل چی نن دټولی دنیا خانان اوشتمن ورڅخه جوړ دی ، زما دا ایمان دی چی په عربو کی دغه انقلاب ، خدای (ج) قران اورسول اکرم (ص) راوستلی اوهمدغه دکیمیا نسخه وه چی دوی یی تر پیړیو پیړیو پوری دعزت او شرف پرتخت کښینول .

شاهدی وایم چی بی له الله څخه بل معبود نشته او محمد (ص) دالله استازی دی .

له آزاد خوست نه تر کلابند ...

ویجاړیدو په حالت کی لیدل خواوس می دجوړیدو خبر اوریده ماخو په ډزو او چاودنو کی دورانیدو او ویجاړیدو تصور کاوه خو نن می داسی چاودنه اوریده چی دجوړیدو او تعیمر لپاره وه کاشکی نور زموږ دهیواد ویجاړیدل بند شی ، کاشکی دوطن غله او لوټماران تول ورك شی .

دکور غله او دپردیو نوکران تول سپك او رسوا شی.موټر په کږنگونو کی په مارپیچی سړك ښکته روان دی ، دزرمت سیمه اوس هم ښکاری ، دلر وروستیو ورانگو هم مخهٔ کړیده ،او دمازدیگرنی ساړه شمال یخی څپی ان دموټر په سیټ کی زموږ په مخ څپېړی واروی

دخوړ ښی غاړی ته یوه ډله ځوانان ولاړ دی ، کمربندونه ترملا او وسلی په اوږه تیار او چالاك څو قدمه وړاندی یو زلمی موذن دمازدیگر اذان کوی ، داذان اروا پالی جملی له شاوخوا کږنگونه نه داسی راغبرگیږی ، لکه داشاوخوا لوړ لوړ کږنگونه او کمونه هم دخدای (ج) پر ستر توب او عظمت شاهدی وایی ، لکه دا کږنگونه هم چی مسلمان وی او دکفر او الحاد پر ضد دالله اکبر شعار پورته کوی داذان دمبارکو کلمو انعکاس او دغرونو په لوړو ژوړو کی دهغی ازانگی سړی یوی بلی دنیا ته ورسره کشوی ،هلته چی له مادی جهان نه اړیکی بلکل شلیدلی دی ، یوه ځانگړی جذبه او قوه دسړی په روح او بدن کی حلول وکړی اوبیو بیل کیف او خوند محسوسوی ، موږ ددغه جهادی مرکز په جومات کی له دوی سره په لمانځه ورگډ شوو اوبیا بیرته خپل مزل ته دوام ورکوو پاس په فضا کی دجیټ الوتکو کرسهار یو ځل بیا راپه یاد کړ چی موږ لادماتم په غولی پراته یو دورانیو لښکر لاشته دی ددین او هیواد غلیمان لا پر ځای پاتی دی .

بنایی همدغه لحظه به دکابل له راډیو نه دسولی او امن ناری وهل کیږی په همدغه شیبه به دروس او کابل باداران او مزدوران دسولی او انسانیت دبری پر سینه وهی خو وسلو یی زما دهیواد پر زامنو اوربل کړی اوسپنی یی زما دهیواد دبچیانو غوښی ځپلی اوالوتکو یی زموږ دبرمیال ولس پر کلیو او کورونو بمونه اورول ، خو ځوك یی نه وینی ، که یی وینی سترگی پټوی ایا زموږ هیواد چالیدلی ؟ که یی لیدلی وی دروسا نو کابل دسولی ډنډوری او شعار په سوله پوری مسخری اوملنډی نه دی ؟

ایا دانسان په سترگو ورننوتل نه دی اوایا دادانسانیت توهین نه دی باوړ مو دی چی همداسی ده نو داسپین سترگی باید نور هم وشرمیږی ، اوکه خدای (ج) کول چی شرمیږی به . غیرتی او مومن افغان بډی راوهلی دی ، وسله یی پر اوږه کړی ده ، نور به داوسله بیرته په ځمکه نه ږدی ، نور به دهمدغی وسلی په سیوری کی پر کابل ورننوزی .

زرمت ورو ورو دتیارو په کومی کی ننوزی ، خو دلته هم تیارو خپل یو دایمی صفت له لاسه ورکړی دی تیاری دی تورې دی ، هیبتناکی دی خو خاموشی پکی سرخوړلی دی ، چوپتیا تری مروره ده ، دتوپونو ډزو دالوتکو غړونو ، دراکټونو او نورو وسلو درنو ډزو دچوپتیا پردی څیرلی دی .

دزرمت وضع هم بدله ده ، دلته هم پخوانی خاموشی نشته دغه وران او ویجاړ کلی نور دپخوا په څیر ویجاړ او له بنیادمانو تش نه دی ، دژړا او خندا غږونه پکی جگ شوی دی دژوند هنگامی سرپکی اوچت کړی دی او دیوی پریکندی مقدمی مقدمات پکی برابریږی .

نور هغو ناامیلو او نهیلیو هم کډه کړی ده چی پردی سیمه یی یووخت وزرونه غوړولی وو ، دجهادتاوده مورچلونه او مرکزونه پکی جوړ شوی دی ، اودیوه ستر ویاړ اوافتخار دگټلو اوتر لاسه کولو لپاره داحرارو ډلگی پکی خوځندی دی ، په څیرو کی خوښی څپی وهی ، خلك یی په مال اوشتوکی لټوی ، په القابو اواختیاراتو کی یی گوری

پردی تولو برسیره دوی ترتولو خوښ هم دی په خولویی موسکا غوړیدلی ده، زړونه یی داده دی دمادی ژوندانه له کشمکش اواخ اوډب نه تر ډیره حده بی غمه اوارام دی .

هلته دیوی ورانی کلا له یوه کونج نه دودونه پورته کیږی ، دکلا ددروازی پر سر یو بیرغ رپیږی ، دلته دزرمت ساتونکی پراته دی، دحقانیانو ډله ده دشاهینانو تولی دی ، هغه ځوك دی چی مرگ نه پیژنی ماته او په شاتگ یی په قاموس کی

کاشکي نور زموږ دهیواد ویجاړیدل بند شي کاشکي دوطن غله او لوټماران تول ورك شي ، دکور غله اودپردیو نوکران تول سپك اورسوا شي

،خو دوی ته خدای (ج) په نیم رنگو جونگړو کی ورکړی وی په څیرو کی خوښی اوپه شونډو موسکا مصنوعی او تشریفاتی نه ده، بلکل حقیقی اوطبیعی ده ، دمرگ په سینه خندا دویر په څپو کی خوښی اوارامی دلته عادی خبره ده بس دستررب (ج) ورکړه ده چی په دی خلکو یی لورولی ، یخی او ځمجنی خونی لوړی تندی دتوپونو اوراکټونو ښوکاراو دمرگونو او ماتمونو سره لاس اوگریوان کیدل ددغه ماحول دانسانانو دورځنی معمول دی چی

نشته له دبنمن سره دتوپك په ژبه خبری کولی شی ، داور اووینو په سمندر کی لامبل یی ورځنی لوبه ده ، همدا نن دننگ او جنگ له مورچل نه رابنکته شوی ځلمیان پکی دی ، همدانن یی په وینو لانده خیشته دمورچل یاران په اوږو رابنکته کړی دی ، خو وضع بلکل عادی ده ، بس سړی ته دلته پته لگیږی ، چی دغو خلکو داهرڅه عملاً پر ځان منلی ، له اور اووینو سره لوبی اوله مرگ سره سترگی جنگول یی تش دخولی شعار نه دی ،عملاً یی درته ښیی چی تش شعارنه دی دایی ربنتیانی هوړ اوتکل دی ، دسروری لوړه څوکه یی شاهده ده دماینونو زنځیرونو اودامونو ددغو شاځلمو پښو ته زولنی وانه چولی شوای ، دمرگ هیولا یی له تصمیم اوارادی نه ډك گامونه ونه درولای شول ، اوبالاخره دغی څوکی دبرمیالو دقدمونو خاپونه په خپل تندی خوندی کړل ، دکلا بند گردیز دکمربند ترتولو لوړه څوکه دبرمیالو غازیانو دفتحی په تکبیرونو کی ولړزیدله ، دزرمت سیمه نوره هغه ویجاړه سیمه نه ده لکه وه چی ، هغه ویرو ونکی اوخاموشی کنډوالی هم نه دی ، ورانی ویجاړی پخپل ځای پاتی دی ، کنډوالی نوری هم کنډوالی شوی دی ، خو دلته دژوند هیلو هم نوی نوی ځوکی وهلی، ډیر پرونی خاموشی کلی اوس خاموش نه دی چوپتیا یی ماته شوی ده، هلته بنیادمان پیدا شوی دی ، داسی بنیادمان چی دخدای (ج) نوم اخلی، دستر رب (ج) په وړاندی سجدی کوی ، دخدای (ج) دکلام ازانگی پورته کیږی دمجاهد داذان دمجاهد دتکبیر ازانگی !

دالله اکبر ملکوتی شعارونه چی زړونه راژوندی کوی اومایوسی تښتوی .

پای

«چاینا وایت » نوي او خالص هیروئین ..

راتلونکی ترنیمایی زیات چاینا وایت هیروئین دمافیا ترسرپرستی لاندی په جنایت لړلیو کورنیو باندی ویشل کیږی .

دچاینا وایت دویشونکو دغه ترڅ کی چی پټ نوم یی «وایت میئر» دی د F.B.I د۱۸ میاشتنی پلټنی په نتیجه کی په نیویارك کی یو «اسیایی - امریکایی » ډلگی کشف او پیژندل شوی

دغه ډله خلك دمخدره موادو په لعنتو کړ هغه هر کاره گان دي ، چي په ځان باندي دظلم او زیاتي په وسیله په لس هاوو کیلو گرام په ربړي پاکټو کي ځاي پر ځاي هیروئین دیو عالم تکلیف سره دخولي له لاري معدي ته داخلوي چي په همدي ډکه گیډه ځانونه لویدیزو هیوادو ته رسوي

اسیایی دلگیو ځانگړی بول تکلم او قبایلی ژوند هغوی دپردیو له مداخلت څخه ژغوری ، څکه د D.I.A په اداره کی کارکونکی چینایان یوازی په نامه کار کوونکی دی ،په ۱۹۸۹ کال کی دمخدره موادو پر ضد یو لړ دیاونی وړ بریالیتوبونه په لاس راغلل ، دنوی دوسیی په اوتقریباً دیوه بلیون ډالرو په ارزښت نوی فیصده خالص چاینا وایت په لاس راغلل چی دجنوب ختیزی اسیا دطلایی مثلث ډوله سیمی څخه دقاچاقو له لاری هانگ کانگ ته اوله هغی ځایه دموټر دربړی تایرونو په منځ کی دسمندری بیړیو په وسیله لاس انجلس ته رسیدلی چی بیا دکرایی لاریو په وسیله نیویارك ته رسیدلی وو.

له دی کشف څخه وروسته یوازی په نیویارك کی ۲۰ کسه ونیول شول .

پداسی حال کی چی سربیره پر یوشمیر امریکایی اوسیدونکو په هانگ کانگ اوسنگاپور کی هم ډیر کسان ونیول شول کوم کسان چی ونیول شول ، په هغی کی دنیویارك یو مشهور سوداگر هم شامل وو چی دیوی شراب خانی مالك وو ، او ددولت پولیسو یقین درلود ، چی نوموړی دپټو ډلگیو سره پخی اړیکی لری ، ۸۲۰ کیلو گرامه هیروئین ونیول شول چی دسل زره کسانو لپاره یی دیوه کال دنشی دتسکین برابرولو دچاینا وایت هیروینو پټه دمیانمر په شمال ختیزه خواکی دسالوین اودختیزی لوړی نه پیل کیږی ، چی تولی نړی ته دتقسیمیدونکو نیمو هیروئینو ذریعه ده ، دکوکینو کښت دوه غرنی قبایل چی "اکا" او "میؤ" نومیږی کوی .

ترعرق کشی وروسته نوموړی قبایل دغه خام مواد په پوره لوړ قیمت پر تایی سوداگرو باندی خرڅوی دغه تایی تاجران په حقیقت کی هغه چینی قبایل دی چی په کال ۱۹٦۹ "دمائیوتسه دونگ" دکمونستی لښکرو په لاس "دچیانگ کای شیک" دقوم پرستانو دماتی وروسته له چین څخه تښتیدلی اودلته ځای پر ځای شوی .

دغه تایی سوداگرخام افیون دکچرو دکاروانونو په واسطه لابراتوارونو ته لیږدوی ، چیرته چی هیروئین تری جوړیږی.

په میانمر کی له ۱۵ څخه زیات داسی لابراتوارونه شته چی هیروئین پکی جوړیږی ، دغه لابراتوارونه دهغه چریکی ډلو تر مراقبت لاندی کار کوی چی دمافیا دجگړه ماری ډلی په مشره"کون سا" پوری تړلی دی .

اود D.I.A سازمان دمامورینو په قول «کون سا» دطلایی مثلث ډوله سیمی دهیروینو په ۷۰ فیصده، برخی باندی تصرف لری ».

"کون سا" چی دنسب او قومیت له مخی نیم چینی او نیم شان دی اصلی نوم یی "چانگ چی فو"دی دمخدره موادو پر خلاف دقانون نافذونکی دامریکا اداری D.I.A لپاره هغه ناپیژندل شوی سړی ندی ، په ۱۹۸۹ کال کی دنیویارك یوی عالی محکمی د۱۹۸٦ کال دسپتمبر څخه د۱۹۸۸ تر فبروری پوری دامریکا متحده ایالاتو ته د ۳۵۰۰ پونډو هیروینو په

په ۱۹۸۹ کال کي دنیویارك یوي محکمي «کون سا» د۱۹۸٦ کال دسپتمبر څخه د۱۹۸۸ تر فبروري پوري دامریکا متحده ایالاتو ته د ۳۵۰۰ پونډه هیروئینو په قاچاقي توکه واردولو کي مجرم وگڼلو.

قاچاقی توکه واردولو کی هغه مجرم وگڼلو ، دامریکا متحده ایالتو دپخوانی لوړ رتبه مامور ریچارد تارن په عقیده "کون سا" دطلایی مثلث ډوله سیمی تر تولو ستر هیروئین خرڅونکی او دمخدره موادو په زرگونو استعمالونکو لپاره دمرگ شهزاده دی .

نوربیا

سیاسي هلې ځلې او واحد دریځ ستونزه ...

دپاکستان داسلامی جمهوریت دبهرنیو چارو دوزارت سکرتر اکرم ذکی په پیښور کی دجهادی تنظیمونو له مشرانو او مسوولینو سره لیدنی کتنی وکړی اودافغانستان دقضیی دسیاسی اواری اوپه راتلونکی کی په اسلام آباد کی دمجاهدینواو روسانو دمستقیمو خبرو اترو پهدویم پړاوکی دګډون په اړوندڅ دهغوی نظرونه او دریځونه معلوم کړل .

همدغسی څو ورځی دمخه په پکتیا کی دالحاج مولانا جلال الدین حقانی په یو جهادی مرکزه ژوره» کی دقوماندانانو دسرتاسری شورا مقدماتی غونډه وشوه اودغونډی په پریکړه لیك کی څرګنده شوه چی دقوماندانانو سرتاسری شورا دریمه غونډه به ددغه شورا دټولو غړو په ګډون په څو راتلونکو اونیو کی جوړه او په هغی کی به دجهاد اوهیواد داوسنی وضعی او حالت تر څیړنی وروسته لازم تصمیمونه ونیول شی .

دجهادی تنظیمونو او ځواکونو تر منځ هم دافغانستان دقضیی داواری دلاروچارو دپلټنی په اړه خبری اتری روانی ، تماسونه او لیدنی کتنی زیاتی شوی اویو ډول تحرك رامنځته شوی دی. په دې لړ کی داسی څرګندونی کیږی چی دوه ورځی دمخه په پیښور کی ددری جهادی تنظیمونو (حزب اسلامی ، جمعیت اسلامی او حرکت اسلامی) محترمو مشرانو استاد ربانی ،انجیر حکمتیار ، اومولوی محمد نبی محمدی دیوې ځانګړی غونډی په ترڅ کی دافغانستان دقضیی په اړوند په یو شمیر مهمو ټکیو توافق ته رسیدلی دی ، که څه هم تر اوسه لا داټکی نه دی په ډاګه شوی خوداسی یادونه شوی چی دغه ټکی به نورو جهادی مشرانو ته هم وړاندی شی اوامکان لری دهغوی دمننی وړ هم وګرځی .

برسیره پردی دافغانستان دملی محاذ دپخوانی مرستیال ډاکتر فاروق اعظم په مشری یو شمیر افغانانو په اسلام اباد کی دیوی اویا کسیزی غونډی دجوړیدو اعلان کړی دی ، چی په هغی کی به دیو شمیر جهادی قوماندانانو په شمول دینی علماء قومی مشران ، مخورین ، او روښنفکران برخه واخلی ترڅو دڅلور ورځو په جریان کی دافغانستان دقضیی پر بیلابیلو اړخونو باندی تر غور ، څیړنی او جروبحث وروسته دقضیی دحل یوه معقوله لار په ګوته او ملت ته یی وړاندی کړی.

همدارنګه په دی اړوند له یوی اوږدی مودی راهیسی دافغانستان دځنو جهادی تنظیمونو له خوا یو اته ویشت کسیز کمسیون ګمارل شوی اوداسی ویل کیږی چی دنوموړی کمسیون کارهم دپای ته رسیدو په حال کی دی اوپه دی ډیر نژدی وخت کی به یی نتایج اعلان کړای شی .

ددی ترڅنګ دافغانستان دقضیی دحل وفصل کولو او دراتلونکی زعامت دټاکنی لپاره په غربی هیوادونو کی دیوی لویی جرګی دجوړیدو وړاندیزونه او خبری هم کیږی او....

دافغانستان دقضیی دحل په اړوند دلته او هلته داټولی ډله ایزی او انفرادی سیاسي هلی ځلی په داسی وخت‌کیږی چی مجاهدین پر دښمن باندی دبشپړ بری په درشل کی دی،دیوی نا انډوله جګړی له نظامی ډګر نه بریمن راوتلی ، خود وروستی بری په وړاندی یی دطاغوتی ځواکونو دګډو توطیو، سازشونو او دیو واحد قیادت دنشتوالی له امله خنډونه او ځنډونه رامخی ته شوی دی .

له یوی خوداسلام دښمنان غواړی چی په دغو حساسو شیبو کی چی زموږ مجاهد ملت خپل وروستی بریته سترګی په لاره اوپه یوه سرنوشت ټاکوونکی پړاو کی واقع دی په بیلو بیلو رنګونو او نیرنګونو غافل اوله خپل ارمان او تګلاری نه منحرف او منصرف کړی ،نو له بلی خواخپل شوم هدف ته درسیدو لپاره دطاغوتی ځواکونو ټوله هڅه داده چی په هره ممکنه وسیله کیدای شی جهادی ځواکونه په سیاسی ډګر کی دافغانستان دقضیی دسیاسی حل په عنوانولو سره مصروف وساتی ، په دی وسیله جهادی سنګرونه ساړه او زموږ دمجاهد ملت ارمانونهاوهیلی‌تالا ترغه کړی .

داخو معلومه خبره ده طاغوتی ځواکونه چی دافغانستان دکشالي لپاره هره طرحه او وړاندیز لری دهغوی شوم اوناولی اغراض پکی نغښتی دی ، او هره طرحه او وړاندیز یی زموږ دجهاد او انقلاب پر ضد له دسیسو او توطیو پرته بل څه نه دی .

نودافغانستان دمسئلی دحل اواواری په اړه دهغوی له هلو ځلونه زموږ مجاهد ملت ته دخیر ښیګڼی هیله بی ځایه ده .

ترکومه چی خبره زموږ په مجاهد ملت او جهادی ځواکونو پوری اړه لری ، دجهادی قیادتونو او ځواکونو تر منځ په دې اړه ددریځونو او نظرونو جلا والی اودجهاد په سطحه دیو واحد قیادت نشتوالی هغه ستونزی دی چی زموږ اسلامی انقلاب یی دبری په درشل کی له ګواښ او خطر سره مخامخ کړی دی ، اودګټلی جنګ دبایلنی ویره یی رامنځته کړی ده ، اوترڅو چی داستونزی موجودی وی شایی دمسئلی دحل اوسرنوشت ټاکنی په اړوند زموږهلی ځلی پرته له دی چی ددښمنانو دلاسوهنو لپاره زمینی برابری کړی ، کومی مطلوبی نتیجی ته ونه رسیږی .

نو تر ټولوغوره لار داده چی تر هرڅه لومړی زموږټول جهادی مشران ، دجهادی سنګرونو اتلان، دینی علماء اوبادیانته روښنفکران په هره ممکنه وسیله چی کیدای شی په خپل ټول ځواك ددغو سترو ستونزو له منځه وړلو هڅه وکړی ، ترڅوديو واحد دریځ له مورچل نه دخپل دین اووطن ددښمنانو توطیی خنثی اوداسلامی انقلاب دسترو آرمانونو په رڼا کی خپله حل لاره وټاکو .

ومن الله التوفیق

په کردستان کی په سل هاوو زره انسانان دمرګ په دروازه کی...

واشنګتن ، دقوس ۹ مه : دامریکا سینیټ ته دعراقی کردستان دبی حده خراب حالت په هکله یو رپوټ وړاندی شوی چی په هغی کی ویلی شوی چی دشمالی عراق په کردستان کی دړا روان ساړه ژمی له امله دپنځو لکو انسانانو دمرګ ویره شته ځکه چی دهغوی لپاره نه کافی خوراك شته اونه دژمی لپاره تودی جامی

په دغه رپوټ کی چی دسینیټ دبهرنیو اړیکو دکمیټی دیوه غړی له خوا ترتیب شوی په صدام حسین تورلګول شوی چی دپنځو کلونو څخه راپدیخوا یې دکردانو په عامه وژنه لاس پوری کړی اوباید پدی جرم صدام حسین دیوه بین المللی محکمه کی محاکمه شي .

په دغه رپوټ کی ویل شوی چی دکردستان په سیمه کی په سل هاوو زره انسانان دمرګ په دروازه کی ولاړ دی ، عراقی پوځونو ددی سیمی بی شمیره کلی وران او ویجاړ کړی دی دڅلور میلیونو انسانانو څخه ۲ میلونه بی کوره شوی او په زرګونو نورو دورانو او ویجاړو کورونو په کنډوالو کی پناه اخیستی ده ددی سیمی اوسیدونکی هره شیبه دمرګ له خطر سره مخامخ دی ځکه په هرپله کی دپرسونل ضد ماینونه خښ دي .

دروان کال دژمی په موسم کی به ٤ ملیونه کردان دپراخه آسمان لاندی پرته له هر ډول احاطی ژوند کوی ، پداسی حال کی چی د نړیوالو خیریه موسسو مرستی هغوی ته نه رسیږی .

په نړۍ کی ترنیمایی زیات روسی ډیپلوماتان د کی ، جی ، بی جاسوسان وو

مسکو،نوای وقت ورځپاڼه : دشوروی دبهرنیو چارو پخوانی وزیر او په انګلستان کی ددی هیواد اوسنی سفیر وایئ چی تر څه مودې‌اجې په ټوله نړۍ‌کی ترنیمایی زیات روسی ډیپلوماتانو دکی ، جی ، بی لپاره جا سوسی کوله .

بوریس پنکن چی داګست ترناکامی کودتا وروسته دشوروی دبهرنیو چاروزیر په توګه وټاکل شو ، اودڅه مودی وروسته انګلستان ته دسفیر په حیث ولیږل شو ، وایئ چی ده دخپل وزارت په دوران کی یو شمیر داسی لوړ رتبه مامورین له کار څخه لری کړل چی په پردیو ملکونوکی یی دکی ، جی ،بی جاسوسی کوله.

پنکن زیاته کړه چی په بهرنیو هیوادونو کی دشوروی زیات شمیر سفیرانو ددی څخه شکایت درلود ، چی په ډیرو مهمو نړیوالو مسایلو کی دکی ، جی ، بی جاسوسان ددوی کارونه پرمخ بیایی ،اودوی دنمونی په توګه استعمالوی .

دی وایی چی مادغه شکایت دوزارت له مرستیال سره مطرح کړ هغه ددی خبری تصدیق وکړ ، ماتری وپوښتل چی‌آیا سفارت خانی دجاسوسی کارونو لپاره استعمالول مناسب کار ښکاری؟

نوموړی مرستیال په ډیر تعجب راته وکتل اوویی پوښتل چی : نودسفارت خانو دجوړیدو څخه مطلب څه دی ؟

بوریس پنکن زیاته کړی چی دبهرنیو چاروو وزارت دغه مرستیال هم دهغو جاسوسانو په ډله کی وو چی دکار څخه ګوښه کړای شول

دانسان اوشرایطو ...

حتی مرګ څخه ویره او ډار ونکړای شي.

په لنډ ډول باید وویل شی چی انسانان او شرایط دواړه یو پر بل باندی درنګ او تاثیر غورځولو توانایی لری .

اما دانسانانو تاثیر په شرایطو باندی داولیت حق لری ، اودشرایطو تاثیر په انسانانو باندی نسبی او وروستی دی دواړه یو په بل باندی مثبت اومنفی اغیزه ښندلی شي .

خو په زیاتو ځایونو کی دانسانانو تاثیر په شرایطو باندی دستاینی وړدی اودشرایطو تاثیر په وګړو باندی په اکثرو موضوعاتو کی درټنی قابل وی .

دحقیقت له مخی په موجوداتو او ټولوکائناتو کی مؤثر حقیقی (یعنی اغیزه اچوونکی) باری تعالی دی.

خدای (ج)توفیق ورکوونکی اوښه عالم دی .

مانې ګانې ...

صرف په کوزیدوکې دمغه دسلام انګازو زما دخیالونو او فکرونو نښلولې مانې ولړزوله په لړه شیبه کې مې داوړیوفکرونو اوخیالونولړی وشلیده هغه چې ما په ډیر زیار آبادوله .

اوس نو همدې ته متوجه شوم چې داهم یو زوی دې دیوه شهید زوی همغه شهید چې داسلام او وطن لپاره یې خپل سرقرباني کړ،خپل بچیان یې یتیمان کړل ، خپله میرمن یې کونډه کړه خو اوس یې دبچیانو دپالنې لاځه چې په سر یې دلاس راښکلو هم څوك نشته مور غریبې به یې څنګه دتلو اجازه ورکړې وي چې چیرته ځې اودڅه لپاره ؟ کله به راځې او کله به دې وینم ؟ دده داخولی جامی اوپټو به یې څنګه اوپه څه شي پریمنځلي وي ایا په اوښکو اوکه په اوبو !!؟

دهیواد په تودومورچلو کی

سمنګان :

دقوماندانانو شورا دسیاسی دفتردرپوټ له مخی مجاهدینو دقوس په ٤ مه دسمنګانو ولایت دمرکز ایبك ښار دسوسن خیلو په عمومی جاده کی دیوه ماین په چولو سره دکابل دامنیت وزارت مربوط دایبك ښار دخاد قوماندان اویو بل نظامی صاحب منصب چی په موټر کی سواره وو ، ووژل ، اودهغوی دسورلۍ موټر یی ویجاړ کړ ، همدارنګه دیوه بل ماین په چودلو سره دخاددفتر ترڅنګ درژیم یو عراده ټانك دسورلیو سره له منځه تللی .

کندز :

یك منبع جهادی کندز به میډیا راپور می دهد که طی عملیات مجاهدین بر پوسته های منطقه خواجه غلتان یك پوسته رژیم را منهدم نموده ٦ تن از افراد رژیم را هلاك وعده دیگری را زخمی یا مجبور به فرار از منطقه نمودند .

همچنان مجاهدین ۹ میل اسلحه مختلف النوع رابه غنمیت گرفتند.

غزنی :

دغزنی ولایت څخه دمیډیا درپوټ له مخی ویل کیږی چی دقوس په دریمه نیټه درژیم دقواوو یوجیپ موټر د«تپه روضه » دپوستو پر لاره دمجاهدینو دخښ کړای شوی ماین دچاودیدو په اثر ویجاړ اودهغی ټولی پوڅی سپرلۍ له منځه لاړی ، درژیم الوتکو ددغی پیښی نه وروسته دسیمی کلی اودمجاهدینو سنګرونه تر برید لاندی ونیول .

هرات :

نمایندگی میډیا در کویته به اساس راپور تورن اسماعیل قوماندان هرات گذارش می دهد که مجاهدین بااستفاده از اسلحه ثقیله خویش عملیاتی رابر مرکز ولسوالی زنده جان انجام دادند که در نتیجه ٥ عراده تانك رژیم تخریب وتعدادی ازافراد رژیم رابه هلاکت رسانیدند .

راپور همچنان حاکیست که طی عملیات مذکور مجاهدین یك عراده تانك ، ٦ میل کلاشینکوف ومقداری ازمهمات رابه غنیمت گرفتند ، و ٦ تن از افراد رژیم را به اسارت گرفتند .

غور :

په کویټه کی دمیډیا نمایندگی دغورله ولایت نه رپوټ ورکوی چی مجاهدینو درواني میاشتی په لومړیو ورځو کی ددی ولایت دتولك ولسوالی مربوط پر پوستو برید وکړ چی درژیم دقواوو یو سنګریی ویجاړ کړاودرژیم قواوو ته یی دسراومال تاوان ورواړاوه .

همدارنګه دمیډیا دیوه بل رپوټ له مخی دهمدی ولایت دشهرك ولسوالی پر پوستو دمجاهدینود برید په نتیجه کی درژیم دوه کلك سنګرونه ویجاړ شوی اویو شمیر ملیشه اوعسکر پکی له منځه تللی ، مجاهدینو پدی برید کی یو مقدار وسلی اومهمات هم په غنمیت نیولی دی.

هلمند :

دفتر سیاسی شورای قوماندانان طی گزارش از ولایت هلمند راپورمی دهد که یك گروپ ۳۰ نفری ملیشه های رژیم مزدور به قوماندانی امر عبدالاحد کچك به مجاهدین ولایت مذکور تسلیم شدند .

گزارش همچنان حاکیست که ملیشه های مذکور دوعراده لاری هشت سلندره یك پایه توپ ۸۲ ملی متری یك میل ماشیندار ثقیل و ۳۰ میل کلاشینکوف رابه مجاهدین تسلیم نمودند .

هند ته هر کال سل زره نیپالی نجونی تښتول کیږی

نوی ډیلی

دیوی غیررسمی احصایی له مخی هرکال ۱۰۰ زره نیپالی نجونی هند ته تښتول کیږی ، اودلویدیزوهیوادو سیاحانو باندی په ښه بیه پیرودل کیږی .

دهند څخه خپریدونکی دیولتن ، اونیزی دخبرمطابق دلویدیزی اروپا ،کاناډا ، استرلیا ، نیوزرلینډ ، اوجاپان څخه هرکال بی شمیره نارینه سیاحاندهند بیلابیلو برخو ته راځی ، چی داکار په هند کی دهلکانو په منځ کی دځان خرڅونکی دپلیت عمل دزیاتوالی باعث ګرځی .

په خبر کی ویل شوی چی په هند کی دښځو نجونو ،او هلکانو دقاچاقی پیرودلو کار اوبارهم په پوره شدت سره روان شوی دی .

څه موده دمخه دنیدرلیند ، پولیسو دفحشا یوه داسی مرکز کشف کړ چی بی شمیره هندی نجونی دفحشاء دخپرولو لپاره پکی ساتل شوی وی، دغه نجونو ویلی دی چی دوی دمناسبو وظایفو په دوکه تښتول شوی چی بیا پدی مرکز کی په زوره دفحشا دخپرولو دنده تری اخیستل کیده .

نوموړی اونیزی لیکلی چی هند ته راتلونکی بهرنی سیلانیان په تیره بیا دجاپان امریکا اواروپا سیلانیان پدی هیوادکی دفحشاء دخپراوی یولوی عامل دی .

دهندي یرغلګرو په یوه نظامي کیمپ دکشمیري مجاهدینو برید

سری نګر، دقوس ۹ مه :

دنیول شوی کشمیر څخه دنویو اطلاعاتو مطابق کشمیری ازادی غوښتونکو مجاهدینو دباره مولا دسیمی په یوه کلی (لچی پوره) کی دهندی یرغلګرو پوځونو په یوه نظامی کمپ برید وکړ چی دهغی په اثر نوموړی کمپ په بشپړه توګه ویجاړ او ٦٥تنه هندی پوځیان مړه اوبی شمیره نور ټپیان شول .

هندی پوځونو دنیول شوی کشمیر پدی سیمه دتوپونو درنو وسلو او الوتکو له لاری پراخه او مسلسل بریدونه کړی چی په نتیجه کی دکشمیری مجاهدینو څخه هم ۲٥ تنه شهیدان شوی .

دنوای وقت ورځپانی درپوټ مطابق دغه جګړه دری ورځی روانه وه ، او دهغی په نتیجه کی که څه هم کشمیری مجاهدینو ته تلفات اوښتی ، خو دهندی پوځونو روحیه یی ډیره ضعیفه کړی او دهغوی په منځ کی یی دار اوویره خپره کړی ده .

سرمایه بانك دولتی شوروی خاتمه یافت

حالات خراب اقتصادی روسیه اکنون بیش ازهر وقت دیگر عیان گردیده است ، رئیس بانك مرکزی دولتی شوروی اعلان نموده است که سرمایه بانك مذکور خاتمه یافته است لهذانمی تواندمعاش ماهوار مامورین دولتی وعساکر وافسران ارتش راپپردازد .

چندی قبل رئیس بانك مذکور هشدارداده بود که اگر سرمایه بالغ بر « ۹۰بلیون روبل » دربانك جمع گردد بانك مذکور نمی تواند معاش های مذکور را بپردازد . روز جمعه گذشته رئیس بانك دولتی شوروی طی گفتاری درتلویزیون ان کشور گفته که چون از مدتی زیادی به اینسو هیبچ مبلغی به بانك مذکور وارد نگردیده لهذاسرمایه بانك ختم گردیده وهیچ چاره جز این وجود ندارد تاازتادیه معاشات ماهوار جلوگیری بعمل آید .

قابل یاد اوریست که بانك دولتی از پارلمان شوروی تقاضانموده بود تا جهت پیشبرد امور مذکور مبلغ (۹۵) بلیون روبل را به بانك بدهند ، وپارلمان هم پیشنهاد مذکور را تائید نموده بود ولی پارلمان جمهوریت فدراسیون روسیه با ان مخالفت نمود.

په لویدیزو ټولنوکی د نارینه سره دبرابرۍ دوکی له ښځې څخه «ماشین »جوړ کړی

لاهور ، دنوای وقت ورځپانه :

داسترلیا اوسیدونکی رجنی ریزه چی دښځو له خوا په جوړ شوی یوه سیمینارکی دګډون لپاره پاکستان ته راغلی وایی چی ښځه دنړۍ په هیڅ ګوټ کی هم له خپلو حقوقو څخه برخمنه نده .

نوموړی استرلیاوی ښځی دنوای وقت ورځپانی له یوه استازی سره دخبرو اترو په ترڅ کی زیاته کړی چی په لویدیزو ټولنو کی دبرابری یامساوی حقوقو دوکی له ښځی څخه یو تولیدی ماشین جوړ کړی اودیوازی توب لویدیز تصور دکورنی نظام دویجاړیدو سبب ګرځیدلی ، پداسی حال کی چی په ختیزو ټولنو کی دښځی روح لا ژوندی دی خو دزړو افکارو درلودونکی نارینه هغو استحصالوی .

رجنی ریزه وایی چی دلویدیزو او ختیزو ټولنو دژوند تګلاري دوه بیلي تګلاري دی ولی په دواړو ټولنو کی له ښځی سره بی انصافی کیږی ، لویدیزوال دنراوښځی دبرابرۍدعوا لری پداسی حال کی چی حقیقت داسی ندی ، هغوی دکارکولو نظام دچاپیریال دحالاتو کنترول اودقوانینو عملی کول ټول دنارینه وو په لاس کی دی .

نوموړی استریلیوی ښځه وایی چی په لویدیزو ټولنو کی دیوازی توب تصور دکورنی ژوند نظام ویجاړ کړی چی په نتیجه کی په لویدیزه ټولنه کی اکثریت ښځی په یوازی توبهغمجنی توب اوبیلابیلو روحی ناروغیوباندی اخته شوی.

رجنی ریزه په دی ټینګار کوی چی په لویدیزه ټولنه کی دښځی ازادی یوازی یوه دوکه ده اودختیزی ټولنی هغه ښځی چی دآزادی په نامه په لویدیزوښځو پسی ځی ، باید په دی پوه شی چی هغوی به هیڅ هم تر لاسه نکړی .

۳ قرارداد پاکستان در سازمان ملل متحد منظور گردید

نیویارك ، روزنامه پاکستان :

۳ قرار داد پیشنهاد شده از جانب پاکستان خلاف اسرائیل در مجمع سازمان ملل متحد با اکثریت مطلق منظور گردید .

طی این قرار داد ها روش اسرائیل در مناطق اشغالی اعراب وظلم وستم انها بر فلسطینی ها شدیداً تقبیح گردیده بود .

واز اسرائیل خواسته شده بود که ظلم وتشدد بر فلسطینی ها را توقف دهد این قرار داد ها با اخذ ۱۲۰ رای با اکثریت ارا به تصویب رسیده که تنها اسرائیل به آن مخالفت نموده بخاطر توثیق هرچه بیشتر قرار داد های مذکور در هفته آینده به اسامبله عمومی سازمان ملل نیز راجع خواهد شد .

خطر کودتای دیگر در روسیه وجود دارد

مسکو ،روزنامه نوای وقت :

اید وارد شوارد نادزی وزیر خارجه شوروی از خطر یك کودتای دیگری در روسیه خبرداده است .

شوارد نادزی گفته است که نیروهای زیادی از مرتجعین که از کودتای ناکام اگست باقی مانده اند اکنون یکبار دیگر خواهان استقرار حکومت مطلق العنان وبیروکراسی اند .

موصوف طی گفتگویی بایك اژانس خبری جاپانی گفته است که امکان یك تلاش دیگر کودتاعلیه نظام فعلی روسیه وجود دارد ، شوارد نادزی همچنان گفته است که عدم استحکام اوضاع در روسیه خطر ناکتر از افزایش اسلحه اتومی در جهان است .

وی گفت :که اتحاد شوروی همچو گذشته یك قدرت جهانی خواهد بود.

شوارد نازدی که دربرج دسامبر سال گذشته از مقام وزارت خارجه استعفی داده بود .

گفته است که او بخاطری دو باره به این پست برگشته است تا بتواند سد راه عمل تخریبی گردد که اکنون در روسیه جریان دارد .

جنگ بین مجاهدین وقوای رژیم درولسوالی دولت آباد همچنان ادامه دارد

بلخ ، میدیا :

یك منبع جهادی از ولسوالی دولت اباد ولایت بلخ گزارش میدهد که جنگ شدیدی بین قوای رژیم کابل و مجاهدین که از پنج روز بیش آغاز شده و به شدت ادامه داشته وتلفات سنگین به دشمن وارد آمده .

بقرار راپور قوای بزرگ رژیم که در آغاز حمله بداخل ولسوالی نفوذ کرده بود ، با قبول تلفات سنگین عقب زده شده واز اول قوس تا کنون ولسوالی مذکور کاملاً بدست مجاهدین می باشد .

راپور می افزاید در برخورد های تاریخی اول قوس ۹۵ نفر از افراد دشمن مقتول و ۱۵۰ نفر دیگر مجروح شده اند که اجساد کشته شده گان هنوز هم بهرسو پراگنده است .

بقرار گزارش مجاهدین طی این نبرد ۱۵ تن شهید وعده دیگر مجروح داشتند .

راپور می افزاید قوای مهاجم اکنون از ولسوالی دولت اباد کاملاً بیرون کشیده شده ولی حملات هوایی واتش توپخانه دشمن بر مواضع مجاهدین ادامه دارد .

ددریمې نړۍ هیوادونه دخپلو شتمنیو زیاته برخه په وسلوخرڅوي

واشنګټن دقوس ۱۰مه :

دنړیوالو خپریو شویو رپوټونو له مخی ویل شوی دی چی په نړۍکی دوسلو دایمی برخی اخیستونکی ددریمی نړۍ هیوادونه دی چی په نژادی ، مذهبی او نورو بیلابیلو تعصبونو کی ښتی دی ، دغه هیوادونه دخپلی دولتی بودجی زیاته برخه دوسلو په اخیستنه مصرفوی حال داچی دښوونی او روزنی او صحی مرکزونه یی وران ویجاړ پراته دی .

دهمدی رپوټونو په اساس دامریکا ددفاع پخوانی وزیر (رابرت مکنامارا) ویلی دی چی په تیرو ٤٥ کالو کی ۱۲٥ جنګونه شوی دی چی ددی جګړو اکثر عاملین همدا ددریمی نړۍهیوادونه وو یدغو خونړیو جنګونو کی څلور سوه لکه وګړی دمرګ له کومی تیر شوی دی ، مکنامارا زیاته کړی ده ، چی دملګرو ملتو دامنیت دشورا پنځه مستقل هیوادونه دوسلو دمخنیوی کارپرمخ بیولی شی ، خوپدی لار کی چوپه خوله ناست دی ځکه ټوله نړۍدوسلو ګودام ګرځیدلی ، په ۱۹۷۷ کال کی امریکا تر ټولو زیاتی وسلی راټولی کړی خو کله چی دامریکا پخوانی جمهور رئیس کارتر ، دوسلو دمخنیوی هلی ځلی پیل کړی نو ور سره جوخت روسیی هم دامریکا دوه برابره زهرجنی وسلی پخپل هیواد کی راټولی کړی .

جهاد هنداره

خپروونکی :دالحاج مولانا جلال الدین حقاني دجبهاتو فرهنګي ټولنه

دټولنی مشر: شهرت ننګیال

مرستیال :محمد زبیر «شفیقي »

مسوول مدیر : سید محي الدین «هاشمي»

کمپوزر : احمد ضیاً «ذهین بابري»

پوسټ بکس :۱۰۳۳ یونیورسټي - تاون پیښور

دټلیفون نمبر: ۸۱۲۸۸۱